# د پښتو نثر له نونسمي پېړۍ راهيسي

## ۱. تر نونسمي پېړۍ دمخه

د پښتو له پيدا سوو اثارو څخه چي تر اوسه زمـوږ لاس تـه راغلـي دي د نظم نمونې تر نثر زړې او پخوانۍ دي د نظم عمر تر يـو زر کالـه زيات دی خو د نثر ډېره لرغونې نمونه هغه ده چي د سليمان مـاکو پـه تذکرة الاولياء کښې د ۶۱۲ ه کاله څخه راپاتـه او اوس يـي ۷۸۶ کالـه کيږي. که څه هم په اسلامي دوره کښي موږ د نثر يو څو کتابونه لکـه د هاشم سرواني د سالو وږمه (۲۹۰ ق) او د شېخ متي د خـدای مينـه (۶۵۰ ق ) او د محمد بن علی بستي تاريخ سوري (۶۵۰ ق) او د احمـد لـودي اخبار اللودي (۶۸۶ ق) د شېخ ملی دفتـر (د۸۲۰ ق حـدود ) او د خـان نجو رانيزي د پښتنو تاريخ ( ۹۰۰ ق حدود) او د بابر خان تذکرة غرغښت (۹۰۰ ق ) او د دوسـت محمـد غرغښت نامـه (۹۲۹ ق) او د شـېخ قاسـم تذکرة الاولياء (۹۹۰ق) او د شېخ بوستان بړيڅ بستان الاولياء (۹۹۸ ق) او

د الله يار تحفة صالح (۱۰۰۰ ق) پېژنو مگر د يو ه د نثر نمونه هم نه لرو او فقط د سليمان ماكو د تذكرې يو څو پاڼي لاس ته راغلي دي. څو چې د (۹۸۰ ق) په حدودو كښي پيرروښان خپل خيرالبيان و كېښ او خوشبختانه يوه نسخه ئې سته او دده په پيروي اخوند درويزه او دده كورنۍ هم د پښتو د نيمچه نثر ليكني سته چي يو ډول "فني نثر" گڼل كيږي.

سل كاله تر روښان وروسته د خوشحال خان او د ختكو د دراني كورنۍ ادبي غورځنگ وينو چي ددغه سره يو ځای په كندهار كښي د هوتكو د دربار د پښتو پالني تر سيوري لاندي د محمد هوتك نثر ليكنه او د پټي خزانې را څرگندونه د پښتو ادب يوه غوره نه هېرېدونكې پېښه ده. چي په دغه لړ كښي د عبدالغفار هوتك د هوتكو تاريخ او د نورمحمد غلجي نافع مسلمين نوي پيدا سوي آثار دي.

په همدغه وخت كښي مور وينو چي د خوشحال خان بياض دده د لمسي افضل خان په لاس كښي دی، او د خپل نيكه روان نثر ځيني را نقلوي. د خوشحال خان د فقه د هدايې پښتو ترجمه خو اوس نسته مگر د دستارنامې نثري ټوټې ئې د پخواني نثر معياري ډول بلل كيږي.

د ختكو د كورنۍ نثر د پښتو ليكنه د ميا روښان له تقليده را گرزوي او بيرته ئې مخ هغي خواته ور اړوي چي دمخه ئې مور د سلېمان ماكو په نثر كښي وينو. د افضل خان تاريخ مرصع او پښتو كليله او دمنه او د گوهرخان ختك قلب السير درې د نثر غټ غټ كتابونه دي اود عبدالقادر خان ختك گلدسته خو د ښكلو گلو دسته ده او د عصام الدين احمد پښتو تفسير او پخپله د افضل خان ختك پښتو تفسير هم منثور ښه كتابونه دي، دا اعثم كوفي د فتوحاتو ترجمه د مظفر بن اسماعيل په قلم د ۱۱۲۶ ق كال په شاوخوا كښي د راورټي له خولې

پېړنو د اتلسم قرن په نيمايي کښي چي لوی احمدشاه بابا د افغانستان سلطنت په کندهار کښي جوړ کی نو موږ گورو چي د عبدالله کندهاري فتاوی احمدشاهي او د پيرمحمد کاکړ معرفة الافغاني او د خانعلوم قاضي محمد غوث د احمدشاه بابا د عارفانه اشعار وشرح د نثر نمونې سته چي وروسته د نونسم قرن نثر په خپله مترقي جوله شرو کيږي.

تر دغه وخته پوري د پښتونثر دوه ډوله ښکاري :

**لومړی** : له محاورې سره نژدې ساده نثر چي نمونې ئې د سليمان ماکو په تذکرة الاولياء او د محمد هوتک په پټه خزانه او تاريخ مرصع کښي ليدل کيږي.

**دوهم** : فني او متکلف نثر چي جوړونکی او خپرونکی ئې پيرروښان او دده د فکري مکتب شاگردان او بيا نو اخوند درويزه او نور ډېر ليکوالان او مؤلفان دي.

پښتو نثر د سبک او ظاهري ډول په لحاظ له ابتداء څخه تر دغو تاثيرونو لاندي وده کړې ده :

١. د خپلي ژبي جوړښت او لغوي او ترکيبي پانگه
٢. د دري ژبي ادبي تاثير
٣. هندي اثرونه
٤. د عربي ژبي ديني تاثيرونه

مثلاً د سليمان ماکو په نثري ټوټو کښي د خپلي پښتو لغتونه او کلمې او د ترکيب او جمله بندۍ اصول خو د هډو په توګه اصيل ښکاري مګرد دري او عربي له خوا څخه چي کوم فرعي پوري نښلول سوي پسولونه پر کوترم سويدي هغه هم ښکاره دي.
اما د پيرروښان نثر خو په ښکاره يو مصنوعي او جوړ کړ سوی نثر دی او پخپله پير روښان وايي چي ما خيرالبيان د سورة الرحمن په توګه کښلی دی.

## (۲) د پښتو نثر د تکامل پر لوري :

د نونسم قرن لومړي کلونه د افغانستان د لوی دولت لپاره خورا ناوړه او کرغېړن کلونه وو څکه چي په همدغو وختو کښي انګريزي استعمار پر هندوستان خپرېدونکی ؤ، او د افغاني شاه زمان د حملو د مخنيوي لپاره د انګرېزانو په سياسي دسيسو لاس پوري کړی ؤ.
پښتو ويونکي خلګ د لوی افغانستان په پراخه سيمه کښي د استعمار له دغه تکړه پهلوانه سره مخامخ وه، او د اروپا صنعتي مدنيت هم له شرقه او هم له شماله را رسېدونکی ؤ په دغه متحوله دوره کښي پښتو ادب او نثرهم تر ډول ډول تاثيرونو لاندي وده کوله. پخپله پښتانه خو د مرګ او ژوند په هولناکه جګړه بوخت وه، د انګرېز او افغان لومړی جنګ او بيا دوهم جنګ په همدغه قرن کښي نښتی ؤ، او افغاني دربارونه او حکومتونه هم خپ خپانده وه خو د تبليغي مقصدونو لپاره هم استعمارګران او هم افغانان پښتو ژبي ته اړ وه، نو څه نا څه پښتو نثر هم په نونسمه پېړۍ کښي د پشپړتيابه پر لوري تی.

ادب خو د ژوندانـه سـره تـړلی دی، او د ژوندانـه چـاري د مـادي ارتیاوو او اقتصاد سره پیوسـتون مـومي پـه نونسـمه پېـړۍ کښـي لـوی افغانستان وران سو او انګرېزان تر خیبره او کوړ کـه راورسـېدل دلتـه د پښتو ویونکو خلکو او د ژوندانه ضـروري چـاري د انګرېزانـو لـه راوړي نوی صنعتي مدنیته سره ونښتی او پښتو ادب هم تر دغو اغېزو لانـدي د پښتنو له ازاده مقاومته سره چي جنګ او زغم دواړه ئې لرل، ځنګ پـر ځنګ روان وه، او نثر چي د ادب یو غوره برخه ده هم له دغه کاروانـه سره ملګري وه.

د اولسونو اجتماعي ژونـد خـو بېلابېـل اړخونـه لـري او ادب هـم ددغو اړخونو نماینده ګي کوي. راسئ چي د پښتـو نثـر هـم پـه شـلمه پېړۍ کښي د ژوندانه له بېلو بېلو پلونو ځخه وګورو چي په لومړي کاته اوه خواوي لري :

## (۳) اوه ډوله نثر :

**لومړی :**

د پښتنو په ژوندانه کښي دین او دیني روایات تر هر څه ډېـره اغېـزه لري او په نثر او نظم دواړو کښي هر وخت دیني آثار دمخـه دي، چـي اخلاقي او د پند او موعظت او د قرآن د تفسیر او دیني روایاتو مضـامین نول په ګډ دي. دغه نثر خو اکثر له عربي یا پارسي کتابو څخه په پښتـو را اړول سوي دي نو ځکه ددغو ژبو اثر هم پر لوېدلی دی. او کله کلـه هغه اسرائیلیات او روایات هم لري چي د دین په نامه پـه اسـلامي لیکنـو را ګډ سوي دي.   ددې ډلي لیکوالو څخه یو دوسـت محمـد ختـک

دی چې په ۱۲۷۵ ق کال ئې د واعظ کاشفي تفسیر حسیني د "بـدرمنیر" په نامه په کندهار کښې پـه پښتـو را اړولـی دی او بـل هـم مـراد علـي کاموی په ۱۲۸۲ ق کـال د پښتـو تفسیریسـیر کښلـی دی چـې د قاضـي عبدالطیف سواتی تفسیر یسیر (۱۳۳۹ ق ) او د شیخ الهند د تفسـیر پښتـو ترجمه د مولوی برهان الدین له خوا او د مولانا عزیزالرحمن سـیفي د سیرت نبوي پښتو ترجمه هم په دغو کښې نسو هېرولای.

## دوهم سیاسي او د صحافت نثرونه :

په نونسمه پېړۍ کښې د نـوي صـنعتي مـدنیت اثرونـه او د اروپـا د استعمار په مقابل کښې د شرقي اولسونو مقاومتونه او د نوي ژوند او نوو افکارو څپې هغه فکر او سیاسي عوامل وه چې د پښتو ادب او نثر ته یـې د عصریت نوی رنګ ورکی.

په دې پېړۍ کښې مطبعه هم د هند له خوا پښتونخوا ته راغلـه او د نوی صحافت او اخبار لیکني اثرونـه هـم لـه انګرېزي او اردو صـحافته څخه پر پښتـو نثـر وسـول. پښتـو اخبارونـه او مجلـې پیـدا سـوې او د چاپخونو د ډېروالي له برکته خپرونـي او لیکنـي ډېـري سـوې. پـه دې وخت کښې لوی افغانستان تجزیه سو او پرنګیانو له اباسینه تـر خیبـره او له بولانه تر کوږکه ټوله پښتني سیمي ونیولې او هم دغه وخت د پښتنـو آزادي بخښنه مقاومتونه د پرنګي له استعماره شرو سوه.

د اروپا لومړی جنګ او پر هندوسـتان بانـدي د هغـه درانـه اثرونـه داسي را ویښوونکي او را پاڅوونکي واقعیتونه وه چې په پښتنو کښې ئې یو نوی د بیداری اروا پـو کـئ، او پـه پېښـور کښـې د انجمـن اصـلاح الافاغنه په نامه یوه سیاسي ډله جوړه سوه چې وروسته د خان عبـدالغفار خان په مشری د "خدایي خدمتګارانو" په نامه یو بشپړ سیاسي ګونـد سـو

او د انگرېزانو له استعماره سره ئې د آزادۍ مقدسه جگړه پيل کړه. دلته نو د تبليغي او ملي مقصدونو د څرگندوني لپاره د پښتو ويونکو خلکو پوهنه او له سياسته سره روږدونه په کار وه او دا کار بې له پښتو خپرونو نه سواى کېداى.

نو دلته پښتو اخبارونه او کتابونه خپاره سول، او د ملي اروا د ويښولو لپاره هر راز ادبي آثار راووتل. ليکوالو مقالې او کتابونه وکښل شاعرانو انتباهي او په غورځنگ راوستونکي شعرونه وويل، د پښتو نظم او نثر دواړه مخ په نوي خوا رهي سول. په نثر کښي رواني او د محاورې سره برابره ليکنه چي د خوشحال خان کورنۍ او محمد هوتک ئې تادايي ايښې وُ بيا را ژوندي سوه، او ځينو پښتنو ليکوالو له خارجي ژبو څخه په پښتو ترجمه هم شرو کړه لکه د نعمان الدين کاکاخېل د ابن بطوطه سفر نامه يا د غلام محمد پوپلزي ، د مولانا حالي د مدوجزر اسلام پښتو ترجمه او د منشي احمد جان په قلم د انگريزي څخه د تاريخ افغانستان پښتو ترجمه چي په همدغه وخت کښي د امير شېرعليخان په دربار کښي هم دا خبره وښورېده او ټوله عسکري بولۍ او نومونه ئې په پښتو راواړول او چاپ ئې کړه.

د ترجمې دغه حرکت د ځانه سره نوي فکرونه او د نوي مدني ژوند دودونه هم راوړل او پښتو نثر ئې د ادبي تحول په.وندر کښي راگير کی. په ترجمه کښي شاعران او ليکوال دواړه مجبور وه چي په داسي ژبه خبري وکي چي لوستونکی ئې په مطلب ښه پوه سي.

هم له دې جهته په نظم او نثر کښي د سلېمان ماکو او محمد هوتک په څېر رواني او شگفتگي راغله او د فکري پلوه هم ځيني نوي مبادي چي د مليت لارې چارې ئې ښيلي زموږ په نثر کښي وځلېدل. دلته چي کومه وده د پښتو داستاني ادب د قصه خوانۍ په منظومو

خپرونو کښې کړېده هغه د پښتو د اوسني ادب ښېل يو فصل دی چې زموږ په اوسنۍ خېړنه اړه نه لري. په سياسي او صحافي ليکنو کښې ددغه وخت سياسي رهنما خان عبدالغفار خان لومړی سړی دی چې د پښتون مجله ئې په چارسده کښې خپره کړېده په پښتو روان او عام فهمه نثر زه په جېل خان کښې او د شلمي صدۍ تهذيب او نور مضامين د پښتنو د ويښولو لپاره خپرول او دوه ملګري ئې ماستر عبدالکريم او عبدالخالق خليق هم د پښتو تکړه ليکوالان دي د ماستر ليکنې تولې خوږې دي او د پښتو د محاورې او محلي اداء اصلي ښه راښيي ځينې واقعې په داستاني رنګ کښې ليکي او د خليق د آزادۍ جنګ هم د واقعه نګارۍ ښه نمونه ده. د عبدالغفار خان ملګرو د خپل نثر ليکلو تاداې پر هغه معيار ايښی دی چې پښتانه پخپلو حجرو او دېرو کښې خبري په کوي دوي وايي : ليکنه او ادب د خپل اصلي مقصد لپاره چې د خلګو پوهول دي استعماليږي او د دوي د ليک مقصد هم دغه دی چې پخپل سياسي او اصلاحي فکر خلک وپوهوي نو ځکه هغه ژبه خوښوي چې پښتانه په خپلو حجرو کښې په ږغيږي. د مير احمدشاه د آزاد پښتون مجله ، د اسلاميه کالج د خيبر مجله يا د سيد را حت زاخېل مجله " ستړی مه شې " په همدغه ژبه او سبک خپرېدل چې د پښتو د سياسي او صحافي نثر غوره آثار دي.

د پښتو سياسي او صحافي نثر خو د کښتې پښتونخوا په فکري او ملي غورځنګ له نوسمي پېړۍ څخه شلمي پېړۍ ته راووت مګر پر افغانستان باندي د استبداد د توري کمبلي خپرې وې او د هيڅ فکري ښورښت او لويښت لپاره لار نه وه او موږ وينو چې امير عبدالرحمن خان په راولپنډۍ کښې د هند د وايسرای سره خپله سياسي مذاکره د سوال و جواب دولتي په نامه او هم ئې نصيحت نامه امير په داسې

ګوډه شله پښتو چاپ کړېده چې د عامو پښتنو له پښتو سره ډېر فرق لري او ليکوال ئې ملا غلام جان لغماني دی وروسته په شلمه پېړۍ کښې د کابل سراج الاخبار پر پښتو تته رڼا واچوله مګر په نثر ليکلو کښې ئې هيڅ و نه کړه او نور افغاني صحافت هم له پښتو څخه تش پاته وه څو چې څه کم نيمه پېړۍ دمخه ما د کندهار له طلوع افغانه د ګردي پښتونخوا د ليکوالو په همت پښتو نثر ليکل را شرو کړه او په افغانستان کښې لومړی پلا پښتو اخبار طلوع افغان په ۱۳۰۹ شمسي کال خپور سو چې د افغانستان په صحافت اود پښتو نثر ليکني کښې يو نوی باب دی، او تراوسه پوري هغسي چليږي، د کابل مجله هم د خپلو پښتنو ليکوالو سره لګه : ښاغلی امين الله "زمريالی" ښاغلی غلام جيلاني "جلالي" ښاغلي الفت، ښاغلی خادم، ښاغلي رښتين، مرحوم محمداعظم "ايازي"، مرحوم نوري، ښاغلي بېنوا او ځيني ښاغلي ليکوال د پښتو د صحافي نثر په تحول کښي لاس لري لکه : ښاغلی مولانا محمد امين، ښاغلی سليمي ، ښاغلی عبدالخالق واسعي،اخلاص، جرار، خواخوږي، ژواک، بختاني، محمد ولي زلمی، شپون او قانع ....

## دريم : تاريخي او فولکلوري او داستاني نثرونه :

دغه ادب د پښتو ژبي يوه لرغوني پانګه ده چې تر نونسمي پېړۍ دمخه هم په پښتني نقلونو کښي په منثور او منظوم ډول د خلکو په سينو کښي ساتلی ؤ او کله کله ليکوالو هغه د کتاب په توګه کښلی هم دی مثلاً : مسعود د عبدالله زوی د آدم او درخانۍ کيسه کښلې وه او بيا ميا احمدشاه رضواني پخپل شکرستان او بهارستان او منشي احمدجان په ګنج پښتو ، د قصه خوانۍ ګپ او هغه دغه کښي ځيني نقلونه راوړي دي. د تاريخي نثر يوه غټه پخوانۍ نمونه خو هغه د افضل خان

ختک تاریخ مرصع دی ، د مولوي عبدالمجید افغاني او د فضل حق شیدا کتابونه د سید جمال الدین افغاني په باب هم په دغه ډله کښي درېدای سي، د اروابشاد محمد رفیق "حبیبي" د تاریخ الامت پښتو ترجمه هم غټ کتاب دی، د ناول لیکني او لنډو کیسو او ډرامو فن هم په دغو وختو کښي پښتو ته راغی او لومړی پلا د ډپټي نذیراحمد اردو ناول توبة النصوح محمدیوسف کاکاخېل په پښتو ترجمه کړ، وروسته د وینو جام محمداسلم ختک وکېښ او امیر نواز جلیا د انګار په نامه یو اخبار را ویوست او ډېري ډرامې ئې ولیکلې چي اوس ددې ډلي مشر پوخ لیکوال د پېښور میرمهدي شا ه د بوډۍ ټال لیکوونکی او تر ده دمخه سید راحت زاخېل هم د پښتو په داستاني نثر کښي په ښه ډول قلم چلولی دی، او د ماسټر عبداالکریم ځولۍ ګلونه او د همیش خلیل چارګل ددې ډول نثر ښکلي کتابونه دي .

منشي احمد جان له انګریزي څخه د افغانستان تاریخ په پښتو ترجمه کی او له تاریخ فرشته څخه ئې د سلطان محمود برخه په پښتو راواړوله. دده نثر لیکنه قوي او د پښتو معیاري نثر ته نژدې ده، دی د شلمي پېړۍ د پښتو لیکوالو د ډلي په سر کښي درېږي. د مرحوم محمد ګل نوري ملي هنداره د پروفیسر سیال کاکړ لیکلي رسالې او د ښاغلي رفیع خو خپاره سوی کتابونه د پښتو د فولکلوریک نثر په لړ کښي د هېرولو نه دي. د ښاغلي نورمحمد تره کي د بنګ مسافرت، سپین، خړه او د ښاغلي بېنوا ځیني انتقادي او طنزیه لنډۍ کیسې او په طلوع افغان کښي زما ځیني لنډي کیسې او د ښاغلي پژواک کلیمه داره روېي او د ښاغلي خواجه محمد قندهاري نثرونه او د ښاغلي اکبرشاه د آزادۍ تلاښ او د ښاغلي بېنوا اوسنی لیکوال او د افغانستان نومیالي او پښتنې مېرمني او د ښاغلي خادم پیرروښان او پښتونولي، هم د پښتو په

دغه ډول نثر کښي د غوري پانګي په توګه منل کېدای سي. د کبرا مظهري او ژواک او غلام غوث او فنا او عبدالعلي کيسې هم دلته د يادولو وړ دي.

## خلرم : تعليمي نثرونه :

د شلمي پېړۍ په لومړيو کلونو کښي د پښتو تدريس په حبيبيه دارالعلوم کښي شرو سو او مولوي صالح محمد قندهاري د پښتو درسي کتابونه وکښل چي په کابل کښي چاپ سول، ده د نثر ليکلو لاره په ښه توګه اواره کړه، او د اخوان افغان د زلميانو په توجه پښتو د سياست او زده کړي ډګر ته راغله، څو د استقلال تر جنګ وروسته د مرحوم امان الله خان په اراده په مکتبو او مطبوعاتو کښي داخله سوه، او د ۱۳۰۲ ش کال په اساسي تشکيلاتو کښي ئې د پښتو مرکه د پښتو د روزني لپاره د پوهني د وزارت په چوکاټ کښي تاسيس کړه چي د قندهار مولوی عبدالواسع ئې مشر او عبدالرحمن لودين او لالا محمد زمان خان او عبدالوهاب کاموی غوندي تکړه ليکوالو او پوهانو په هغه کښي برخه درلوده، دوی يوازيني پښتو په سوچه نثر تاليف او چاپ کړه د پښتو پښويه (ګرامر) او يو لوی قاموس ئې تاليف کړل.

د تعليمي او تربيوي چارو په لړ کښي د غلام محمد پوپلزي تربيه اولاد په پېښور کښي او د رای صاحب دېوان رتن چند قندهاري رهنمای پښتو او پښتو ليکچر او برټش راج په کوټه کښي راووتل او دغسي هم د پښتو د زده کولو لپاره انګريزانو تعليمي کتابونه وکښل چي د وروستو علمي څېړنو لپاره يو تادای وُ.

ډارمستېټر د پښتونخوا هار و بهار د پادري هيوز کليد افغاني د راورټي ګلشن روه د ډورن پښتو منتخبات داسي کتابونه دي چي ټوله د

زده کړي په مقصد غربي پوهانو کښلي او په اروپا يا هند کښې ئې چاپ کړي دي. په تعليمي آثارو کښې د مرحوم محمد اعظم ايازي لس زره لغتونه او پښتو گرامر او د ښاغلي بېنوا ادبي فنون او د عبدالحليم اثر پښتو ادب او د پوهاند رښتين د ادبياتو لنډ تاريخ او گرامر او ژب ښودنه او د مرحوم محمد عثمان پښتون پښتو ښوونکی چې د کندهار پښتو انجمن خپور کی، او ددغه انجمن پښتو مجله هم دوه کاله وچلېده چې په پښتو نثر ليکلو کښې ئې برخه لرله او د مرحوم محمد گل مومند پښتو قاموس او پښتو گرامر دواړه د تعليمي کتابو نمونې دي، چې بيا نو د پښتو کلي سلسله او د پوهنې د وزارت او مرحوم پاينده محمد زهير تدريسي پښتو کتابونه او د مطبوعاتو او د پوهنې وزارتو پښتو خپرونې په دغه لړ کښې د يادولو وړ دي. او د اروابښاد عبدالله افغاني نويس قاموسونه او د ښاغلو شاکر، تري، الهام،دوست، هلالي، لودين ، پولاد، روهي او زيار د ژب پوهنې خېړنو آثار هم نه هېروو.

دلته د مرحوم سراج الدين سعيد ځيني تربيوي ليکني او د ښاغلي ارباب سکندر خان خليل گلونه او ازغي او د اروابښاد محمد گل مومند لنډکی پښتو هم نه هېروو.

## پنځم : تحقيقي نثرونه :

د پښتو د ادبياتو څېړني او د ادبي تاريخ ليکني ته هم لومړی پلا ما په طلوع افغان کښ لاس ورته کی او د کندهار په چاپخانه کښې مې د پښتو منظوم متنونه لکه د خوشحال خان کليات او د عبدالقادر خان ديوان د مفصلو مقدمو سره چاپ کړل. په سپېڅلې پښتو کښې مې د پښتو پر فقه اللغه څېړنه وکړه او ځيني بيلې رسالې مې د پښتو او

پښتنوالي په تحقيق کښي د طلوع افغان په کالنيو ګڼو کښي خپرې کړې. وروسته چې پښتو ټولني ته راغلم نو مي د پښتانه شعراء لومړی ټوک د پښتو د لويو ليکوالو په مرسته وکښل او بيا مي د اديبانو د پوهنځی لپاره د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی او دوهم ټوک وکښل خو بيا پټه خزانه هم لاس ته راغله، او هغه هم زما د تعليقاتو سره درې واره چاپ سوې ده.

دغو کتابو د پښتو په ادبي تاريخ کښي يوه نوې د څېړني لار پيرته کړه او ددې مکتب ښاغلي ليکوالان پوهاند رشتين او پوهاند رشاد او ښاغلی خادم او ښاغلی بېنوا او پوهاند الهام او له نوو ځوانانو څخه ښاغلی دوست او ځيني نور زلميان دي. خو د کتاب شناسۍ په څانګه کښي د ښاغلي رفيع او ښاغلي زلمي هيوادمل کارونه هم د يادولو وړ دي.

په تحقيقي څېړنو کښي د مرحوم قاضي عطاء الله خان د پښتنو تاريخ درې څلور ټوکه او د ظفر کاکاخېل پښتانه د تاريخ په رڼا کښي او د ښاغلي رشاد لودي پښتانه ښه تحقيقي نثرونه دي د دوست محمد کامل رحمان بابا او د تاريخ مرصع تعليقات او د همېش خليل کارونه پر ادبي متونو او د رجالو په ښوونه کښي د نثر غوري پانګي دي. د پښتو پر اشعارو او ځينو نورو خصوصياتو څېړنو او د پښتو د ادب د ارزښتونو څرګندونه ددې ډول نثر خاصه موضوع ده چي مورږ ئې د ادبي کره کړني او انتقاد يوه ښېله څانګه ګڼو او د ښاغلي خادم او ښاغلي شمس الدين مجروح او پوهاند رشاد او پوهاند شتين او ښاغلي دوست ليکني د پښتو د انتقادي نثر پانګه زياتوي.

## شپږم : هنري نثر :

په شلمه پيړۍ کښې هنري نثر هم په پښتو ادب کښې وينو چې د برق کاکاخېل ځيني هنري ټوټې په خيبر ميګزين کښې خپرېږي، ددغسې نثرونو ښه ليکوال په افغانستان کښې ښاغلی الفت دی، چې هره د نثر ټوټه ئې لکه يو بليغ او شيوا شعر داسې ده. داسې نثرونه کله کله ښاغلی بېنوا او ښاغلی ډاکټر مجروح او حبيبي او ښاغلی خادم او ښاغلی لايق او نور زلمي هم ليکي. اروابناد محمد ايوب خان خو ځانله خاص سبک درلود په لره پښتونخوا کښې هم د سيد رسول رسا او شيدا او برق او اجمل او سيد راحت او حمزه او روغ لېونی نثرونه کله دغسې دي. چې له يوې خوا هنري ظرافت او لطافت لري او کله کله د طنز او انتقاد رنګ هم مومي چې د جعفر اخګزي جعفريات هم د لوستلو وړ دي. د مرحوم عبدالغفور خروټي مضامين چې د کندهار په طلوع افغان يا پښتو مجله کښې خپرېدل هم کله کله دغه رنګ لري.

هنري نثر يو ډول منثور شعر دی چې له عاطفي احساسه او د انسان د لطيفو او ظريفو ادراکونو څخه رابهيږي نو ځکه د اجتماعي دردونو او الامو ځنې نازکې ټوټې را برسېره کوي او د ټولني د محرومو د خواشينی او بې وزلۍ حال را ښکاره کوي.

## اووم : قانوني نثرونه :

د استقلال تر جنګ وروسته د مرحوم امان الله خان په همت په افغانستان کښې يو قانوني حرکت هم شرو سو چې په ۱۳۰۱ شمسي کال د حوت په مياشت په جلال اباد کښې يوه لويه جرګه وسوه او د افغانستان اساسي نظامنامه يې ومنله. او تر دې وروسته په لس کاله اماني دوره کښې چې ډېره مترقي او مثمره وه، په سوو قوانين راووتل چې د

ګردو پښتو ترجمه هم ورسره خپرېده. دا پښتو ترجمې متاسفانه نه هنري پلو لري او نه د ژبې له اساسي قواعدو سره سمې دي. دونې د پارسي تر اثر لاندې ترجمه ده چې د اميرعبدالرحمن خان د وخت پښتو ئې شرموولې ده. هغه پښتو نه ده چې خلکو ويله بلکې د پارسي تحت اللفظ ټکي په ټکي ناوړه او بېخونده ترجمه ده. خو د هر قانون په پاى کښې د پاچا مهر لري (په دې د کړن وسې ) او دا ښکاره کوي سليم چې ذوق هم وُ چې داسي ساده او سم عبارت يې کښلې دى. او ښايي چې د ګردو نظامنامو ژباړونکې ددغسي ذوق خاوندان نه وه.

## يوه لنډه کره کتنه :

په دې څېړنه کښې زه د پښتو پر پخواني نثر ډېر نه رغبېږم خو تش دونې وايم چې د پخوانو نثر سوچه ، ساده او د پښتو له محاورې سره سم وُ او دا خبره د سليمان ماکو نثر ښکاره کوي. د هجرت د لسمي پېړۍ په دوهمه برخه کښې د دري ژبې او عربي د فني نثرونو تر اثر لاندې پيرروښان يو داسي نثر په خيرالبيان کښې راويوست چې هغه ته نه نظم ويل کېږي او نه نثر د جملو په پاى کښې اکثر د (ان) سجع لري جملې ئې مسجعي دي او دغه ناوړه نثر اخوند درويزه او ځينو نورو ليکوالو وروسته تر يوه قرنه پوري ليکه خو په يوه کښې ئې هم هنري ښکلا نسته او بې خونده نيمه نثر يا نظم دى.

د يوولسمي هجري پېړۍ په پاى کښې خوشحال خان او دده کورنۍ د پښتو نثر دغه عيب ته ملتفت سول او بيرته ئې په يو ادبي بازګشت کښې د پښتو نثر مخه هغي خواته وګرزوله چې پر هغه باندي پخوانۍ پښتو نثر روان وُ. تر خوشحال خان وروسته افضل خان خټک او په همدغه عصر په کندهار کښې محمد هوتک پښتو نثر بيرته خپل

حقيقي رنگ ته ور واړاوه چي له ناوړه عربي او پارسي درنو اثرونو څخه ازاد دی. مگر بيا هم عربي او پارسي کلمات ډېر لري او کله کله پښتو کلمې هم وي دوي يې پر ځای عربي يا پارسي راوړي. تر هجري څورلسمي پېړۍ پوري د پښتو نثر پر همدغه لار روان ؤ څو چي ځينو پخو او تکړه ليکوالو لکه د کامې مراد علي او د پېښور مولوي احمدجان او رضواني او د کندهار حاجي محمد اکبر داسي ليکني شرو کړې چي د پښتو له اصلي او طبيعي جوړښته سره برابري وې او دغه حرکت بيا مولوي صالح محمد د کابل په درسي کتابو کښي پسي وروزه. په دې دوره کښي د پښتو نثر حياتي او مفکوروي ارزښت دوني ؤ چي د پوهولو يوه ښه اله وي خو کومه فکري د نوي ژوندانه توښه ونه لري يعني د ويونکي په مقصد سړی وپوهيږي خو عقل او دماغ ته ئې يوه نوې "مفکوره" نه رسيږي.

ژبه چي د انسان عقلاني ودي او له مفکوروي ژونده سره مله نه وي هغه ژبه وچه او ولاړه او په تور تم کښي منډلې پاتيږي او پښتو همدغسي وه ځکه چي پردو او خپلو د پښتنو ويونکو عقلاني او فکري وده نه غوښته او ددوي ويښتوب ئې د ځان د قدرت پاتا گڼله، جهاني لومړی جنگ څه نا څه پرېيدو اولسونو باندي هم اغېزه وکړه او تر جنگ وروسته د افغانستان د استقلال غورځنگ د اروابناد امان الله خان په مشرۍ تړوله بيده اسيا سره را وښوروله او په دې ترڅ کښي پښتو نثر ته د صحافت او نشراتو او نوو ليکنو له خوا يوه داسي فکري پانگه ور نصيب سوه چي په افغانستان کښي ئې د نوی نهضت او په پای کښي ئې د جمهوريت لار سمه کړه، او په پښتونستان کښي ئې د پرنگي د استعمار کمبله تړوله کړه خو وروسته دا ملي وسله او د پښتو ادب د خپلي آزادۍ په جگړه کښي تر اوسه ولاړ دی. د شلمي پېړۍ په ابتداء کښي خو

خان بهادر مولوی احمدجان پښتو خپلـو بـادارانو انگريزانـو تـه ور زده کوله او د فکر هيڅ پانگه نه درلوده محتوي ښه ؤ مگر محتوي د سره وه نه. خو د استقلال تر جنگ وروسته هم د پېښـور هـم د افغانسـتان پښتـو نشرات د يوه ملـی دريـځ څرگنـدوونکي دي. کـوم نثـر چـي مولـوی عبدالواسع د يوازينی پښتو په مقدمه کښي کاږي او بيا چي کـوم نثـر د خان عبدالغفار خان ملگري په پښتون مجلـه کښـي ليکـي دواړه د يـوه قومي ژوندانه او د افغانانو د ملي ارمان ښکارندوي دي.

د پښتو نثر چي اوس په مطبوعاتو کښي ليـدل کيـږي يـا لـه راډيـو څخه اورېدل کيږي د نورو ژبو تر اثر لاندي يو کرغېړن نثر دی، چـي بايد تصحيح او د پوهېدلو وړ سـي. د ژبـي اصـلي بڼـه او د ادا ډول او قواعد وسائل سي، ملفوظ او مکتوب سره ليـري نـه سـي د ځانـه جـوړ کړي کلمات پکښي کوترم نه سي او که نوو لغتونو ته ضرورت پېښ سي هغه دي د پښتو ټولني د علمي غونډو تر منلو وروسته دمخه په مطبوعاتو کښي د خلکو د خبرتيا لپاره خپاره سي بيا دي نو راډيـو او کتـابونو تـه ورسول سي. په هر صورت اوسنی نثر چي کومي خواته روان دی د علمي ټولنو د توجه وړ دی زه پر دې ببرېږم چي سبا بـه د ليکوالـو او عامو خلکو پښتو دوني سره ليري سوې وي چـي يـو د بلـه بـه نـه سـره پوهيږي. که اوس مورډ يوه خپل بانډه وال ورور ته ووايو چي ما تصـميم نيولی دی يا رول لوبوم اريانيږي چي دا څه وايي ؟

کله کله سپک او رکيک کلمات هم اروو چي د ځينو نورو خواوو په محاورو کښي هغه ښکنځل گڼل کيږي لکـه تمـاس نيـول، پـه گوتـه کول، گوته نيول او نور ... دا سمه خبره ده چي هر څـوک د خپلـي لهجې او محاورې سره سم خبري يا ليک وکي مگر کـه ځينـي داسـي کلمات يا اصطلاحات وي چي په هابله خوا کښي بد مفهوم ولـري او

اوريدونکي په سوء تفاهم اخته کوي داسي مـواد بايـد پـه ادب او ليـک کښي په ډېر احتياط استعمال سي او پر ځاى ئې هغه کلمې او تعبيرونه واخيستل سي چي گرده پښتو ويونکي ښه په پوهيږي. او بد مفهوم ونـه لري. ځيني خلك په ښه نيت د پښتو سوچه کېدولو ته اړم سوي دي د ځانه کلمات جوړوي او په پښتو ئې ورننباسـي چـي نـور خلـك نـه پـه پوهيږي د ژبي دغسي سوچه کول کـه پـه ښـه نيـت هـم وي د گټـې پرځاى تاوان لري، او يوه نامفهومه د پېريانانو ژبه ځيني جوړوي. دا کار د يوه سړي نه دى ښايي چي د پښتو ژبو يو گڼ د پوهانو انجمن دا کـار وکي او هغه هم په داسي وخت کښي چي د ژبي عمومي څېړنه او پلټنه سوې وي، او هغه کلمې چي په ژبه کښي موندلي نه سي بيا وضع سي. د ژبي د سوچه کولو فکر لږ څه افراطي هم ښکاري ځکه چي پر کرۀ مځکه داسي ژبه نسته چي د نـورو ژبـو لـه کلمـاتو خڅـه دي کـورټ سوچه وي. تاسي پرېږدئ چي د پښتو نثر د گردو دخيلو کلمـاتو سـره ددې وړ سي چي علمي او فکري او ادبي گران او پېچلـي مفـاهيم اداء کي چي علمي او فکري پانگه ئې ډېره سوه او دا خوار بشر کى ئې لـږ څه غټ او تکړه سو بيا هر څه چي وغواړئ زغم به ئې ولري مگـر اوس شيدو رودونکي کوچني ته د غټ سړي خواړه مه ورکوئ چـي سـبا بـه ئې په چاره پوري اريان يو ...

**يادونه** !

د پښتو د نثر اوږد داستان ما له خپلي حافظې دلته په خو مخو کښـي را لنـډ کـي ځکه چي زما د وينا وخت هم لنډ و نو که څوك يا کوم منثـور اثـر پاتـه وي دا کـار ارادي نه دى زما سهوه او نسيان به وي. هغو ټولو ښاغلو ليکوالو چي په نثر کښي څـه ليکلي دي زموږ د ستر گو تور دي دوى به ما وبخښي. (۱)

---

(۱) پښتو چاپي آثار، د مقالو مجموعه، ۱۳۵۷ کابل چاپ، ۵۱ _ ۶۳ مخونه.